امین بسمل


۲۸.۰۸.۰۹

# د سپيني مانۍ واکمنانو ته

غله ته وايي غلا کوه د کور ښبتن بيدار ساتي

ځو به يي دوه مخي ځو به داسي اقتدار ساتي

دا درغلی نه دي چي دا ته يي شپه او ورځ کوي؟

ولي دا غدار دوستم افغان ولس ته مار ساتي

ريچرد هولبروک تا خپله ترکي ته پسي ولېږه

اوس ولي پرشا سوي دغه ځان ښکه کنار ساتي؟

ستا مانۍ خو سپينه خو بلاوي پکي توري دي

توري نقشي ته باسي تر هکر ساتي کوکنار ساتي

هم به شهيدان هم به غازيان هم به وي روغ اوجوړ

ته چـــــي د کابل قاتلان داسي دوامدار ساتي

زموږه د لستوني ماران غلي لکه مري وو

ته يي نازوي راته هر يو لکه ښامار ساتي

ستا په نړيوال برم د شمال تلوالي څـه وکړل؟

اوس هم په تخرګ کي لا چرګوري د نظار ساتي

ښه بازار د تود دی د چرو او باروتي وسلو

يو حلالوي بل په اورونو کي حيصار ساتي

دا د همت غولی د احمد او د میرویس کوڅې

اوروي پرې غشي په لمبو کې قندهار ساتي

بیا دې کړه ناولې په ناولو پښو زموږ خاوره

څو به د ملالې او ایوب سیمه په څار ساتي؟

هم مرداري ته وکړې هم نور په کانو ولي ته

نور څوک غولولی نه شي ولې ځان ناګار ساتي

ستا دا فرعوني لښکر به مات ته به تري تم شې

ته چې زموږ کونډې یتیمان همېش آزار ساتي

ای بسمله لوی خالق ته لپه کړه لاسونه خپل

ولې دومره سوځې ولې زړه کې سور انګار ساتي